# وروستی باران (ناول)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکوال: نعمت الله رحيمي**

# بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............کتاب پېژندنه:..................................................................................................

د کتاب نوم: **وروستی باران (ناول)**

لیکوال: **نعمت الله رحیمي**

اړیکه: **Niamatullahr3@gmail.com**

کمپوز: **خپله لیکوال**

د خپریدو کال: **2022 زېږدیز ـ ۱۴۰۱لمریز کال**

..........................................................................................................................

ددې کتاب چاپ، پر وېب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۷ز – کابل، افغانستان

مازدیگر و او سخت زورور بارن و، واده و د واده له هوټل د باندې بلال له خپل ملګري سره په موټر کې ناست و، د موټر څراغونه ګل او بل کیدل بلال وویل:

- حمزه !

- وایه

بلال له موټر ښکته شو د موټر له کړکۍ یې سر دننه کړ ویې ویل:

- تاوان څه ته وایي؟ همدې ته وایي چې باران وریږي او ته ورته ګورې خو خوند ترې وانخلې باید باران ته ودریږې حس یې کړې ورته ونڅیږې، د باران د څاڅکو ټک ټک ترټولو غوره موسیقي ده

حمزه رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

- ښه! ونڅیږه نو

بلال وخندل د موټر دروازه یې خلاصه کړه حمزه یې له لاس را کش کړ او باران ته ودرېدل خو باران د دریدلو نوم نهٔ اخیستو بلال یې له ملګري سره له باران خوند اخیستو نهٔ یې غوښتل تاواني شي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هوټل دروازې سره دوه مشران د میلمنو د ښه راغلاست لپاره ولاړ وو یوه بوډا ور وکتل چې دوی باران ته لکه ماشومان ټوپونه وهي د بل بوډا په اوږه یې لاس کېښود ورو یې وویل:
- ګل کاکا! زمانه خرابه شوې د ورور واده یې دی او پر ځای ددې چې له میلمنو ښه راغلاست وکړي لکه ماشوم باران ته نڅېږي

ګل کاکا سوړ اسویلی وویست ویې ویل:
- ته به یې ونهٔ منې د ورور واده کې مې دومره کار کړی و تراوسه مې ملا بې ځایه ده

بوډا ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:
- دومره زیاتی بل چاته ونه وایې ګل کاکا!

ګل کاکا غلی شو، شیبه وروسته یې وویل:
- دا دې مالداره پلار بې پروا اولاد دی خوري ښنبي او حساب نهٔ مني...

شیبه وروسته د بلال پلار راغی بلال یې د پلار په لیدو سمدلاسه ځان سمبال کړ او د پلار خواته یې ورغی پلار یې وویل:
- شرم نهٔ دی؟ خلک تا پسې نه، ما پسې سپکې سپورې کوي چې دا د فلاني زوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلال که څومره شوخ او غوصه ناک و د پلار په مخ کې به گونگی شو غلی و پلار یې بیا وویل:
- ورشه ښځینه صالون ته مور دې زنگ وهلی و، پکار یې وې!

بلال غلی روان شو هوټل ته دننه ولاړ خپله مور یې ولیده ور غږ یې کړ مور یې راغله ویې ویل:
- ته زنگ ته ولې ځواب نهٔ ورکوې؟ ژر لاړ شه سینگارتون ته د ناوې خویندې هلته دي ژر یې تر هوټله را ورسوه چې واده خلاص شو

بلال ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:
- ههه! مورې خدای که راباندې انجونې راولې
- ولې؟

بلال یوه شیبه غلی شو وروسته یې وویل:
- زه د چا نوکر نهٔ یم، خپله دې راځي!

مور یې له خپلې لاسي کڅوړې موبایل را وویست بلال پوه شو چې پلار ته یې زنگ وهي ژر یې د مور له لاس موبایل واخیست ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ښه سمه ده ځم اړتیا نشته زنګ ورته ووهې مخکې یې هم یو ساعت راته نصیحت وکړ

مور یې مُسکۍ شوه بلال د باندې ولاړ موټر ته پورته شو غوصه و ځکه یې په تیزۍ موټر ته حرکت ورکړ په سړک د باران له امله ډنډ شوې اوبه یوه ځوان ته ور باد شوې کالي یې مردار شول چغه یې کړه:

- څه کم عقل یې!

څو شیبې وروسته بلال سینګارتون ته ورسید موټر یې ودرولو بلال که څومره شوخ او بې پروا و خو بغیر له خپلې مور یې د بلې ښځې او انجلۍ په مخ کې خبرې نشوې کولای ګونګی کیدو، څو شیبې تم شو خو له سینګارتون څوک را ونهٔ وتل، خپل موبایل یې له جیب را وویست مور ته یې زنګ وکړ ځواب یې ورکړ، بلال وویل:

- زهٔ خو دلته راغلم څو ځلې مې هارن هم وکړ څوک رانغلل څه وکړم؟

د مور لخوا یې غږ سم وانه وریدل شو د واده رسم پیل شوی و ځکه د ساز او اواز له امله یې څه وانه وریدل صرف ویې ویل:

- زه درته دې هوا شمیره لیږم زنګ ور ووهه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور يې موبايل بند کړ شيبه وروسته د پيغام شرنګ شو مور يې شميره ليږلې وه بلال له ځانه سره وويل:
- دا څه جنجال شو، زه نو انجلۍ سره څنګه خبرې وکړم؟

يوه شيبه غلی شو بيا يې وويل:
- پيغام ورته استوم، هو! دا به ښه وي

پيغام يې ولیږلو ويې ليکل:
- زهٔ بلال يم ستا د اوښي ورور! مور مې تاسو پسې راوليږم که را ووځئ چې هوټل ته لاړ شو مهرباني به وي.

څو دقيقې ووتې خو له سينګارتون څوک را ونه وتل بلال له ځانه سره وويل:
- خدای که زنګ درته ووهم!

له موټر ښکته شو د سينګارتون په لور روانيدو چې انجونې له سينګارتون را ووتې بلال د لاس په اشاره ځان ور وښود او خپله بيرته موټر ته پورته شو، شيبه وروسته انجونې موټر ته پورته شوې يوې انجلۍ وويل:
- هوا! موټر چلوونکي ته ووايه چې څراغ بل کړي سيلفي اخلم

هوا وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو ربنتیا! دا ته ښکلې موټر چلوونکی یې یو ساعت شو درته په تمه وو او ته

غلې شوه بیا یې وویل:
- ښه ځه دا پریږده ځراغ بل کړه

بلال خو هسې د انجونو سره د خبرو کولو همت نهٔ درلود چې خپل سپیناوی وکړي بې له څه ویلو یې ځراغ بل کړ بلال شاته وکتل د هوا ښکلې ځیره شنو سترګو او بې مثاله ښایست په خیال کې ډوب کړ هوا وویل:
- څه ته رډ رډ ګورې! حرکت وکړه ګني شکایت کوم چې له دندې دې ګوښه کړي

موټر ته یې حرکت ورکړ هوا وویل:
- دا دومره غټ موټر کې غلې ناست یو، یوه سندره چالانه کړه واده ته ځو خدای مه کړه څوک خو مړه نهٔ دي

بلال څه ونه ویل غلی لګیا شو ترڅو سندره چالانه کړي، هوا خپلې خور ته وویل:
- ښکلې دی زما سینګار..

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا يې خبره نهٔ وه خلاصه چې سندره چالانه شوه " ځومره ښايسته سينګار دې کړی دی." بلال ژر سندره بدله کړه له ځانه سره يې وويل:

- ته دې سندرې ته ګوره دا يې وخت نهٔ و

شاته يې د هوا خواته رډ رډ ور وکتل، څو دقيقې وروسته د واده هوټل ته ورسيدل موټر ودريد او انجونې ښکته شوې بلال هم له موټر ښکته شو ويې کتل د چې دننه ځراغ بل پاتې دی د موټر دروازه يې خلاصه کړه ترڅو ځراغ بند کړي د موټر شاته څوکۍ باندې يو موبايل پروت و را پورته يې کړ سکرين يې بل شو د هوا عکس پرې ايښی و ژر يې خپل موبايل را وويست له موبايل يې عکس واخيست او موبايل يې ورسره جيب کې واچولو موټر يې بند کړ او هوټل ته دننه ولاړ ښځينه ډيرې وې بلال شاوخوا وکتل د هوا پرې نظر شو بلال د لاس په اشاره ور وغوښته د هوا خور وويل:

- ورشه موټر چلوونکي لکه چې زړه دربانديې بايللی تر دې ځايه درپسې راغی

هوا په بيړه پورته شوه د بلال مور ته يې وويل:

- خاله! ته له ماسره راشه ستاسو موټر چلوونکی خو له حد واوښت دلته راپسې راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلال مور شاوخوا وکتل بلال یې ولید نور کوم نارینه نه وو ویې
ویل:
- زموږ موټر چلوونکی ښځینه صالون کې څه کوې هغه یو زما
زوی ده نور خو زهٔ څوک نهٔ وینم؟

د هوا رنګ ژیړ واوښت څه یې ونهٔ ویل او د بلال په لور ور روانه
شوه بلال بې له دې چې څه ووایي د هوا موبایل له جیب را وویست
هوا ته یې ورکړ د هوا لاس لړزیدل موبایل یې ترې واخیست ویې
ویل:
- وبښه! زهٔ نهٔ پوهیدم...

خبره نهٔ وه خلاصه او بلال بیرته ستون شو هوا له ځانه سره وویل:
- بیچاره لکه چې ګونګی دی!

بلال ولاړ د نارینه صالون مینځ ته حمزه یوه څنګ ته ولاړ و ور غږ
یې کړ:
- حمزه!

حمزه ژر راغی ویې ویل:
- هههه! راغلې

بلال رډ رډ ور وکتل ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو نو ولې خاندې؟
- ولې نه خو انجونو پسې تللی وې رنګ دې ځکه ژیړ اوښتی

بلال شیبه غلی شو بیا یې وویل:
- راځه لمونځ وکړو
- ما لمونځ وکړ راځه ته یې وکړه زه درسره ځم
- وکړه قسم ؟
- پخدای ساعت ته وګوره اته بجې دي

څه یې ونهٔ ویل دواړه د هوټل جومات ته روان شول...

بلال لمونځ کولو حمزه ورته په تمه و د بلال ماما راغی حمزه ته ځیر شو په خپلو بریتو یې لاس را کش کړ ویې ویل:
- حمزه! ځو ځلې مې ویلي؟ مه ګرځه ددې بلال سره !

یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:
- دا د مالداره پلار زوی دی دومره په میراث ورپاتې دي چې ټول عمر یې وخوري نهٔ خلاصیږي او څه به ترې زده کړې؟

حمزه مُسک شو ویې ویل:
- ماما! زهٔ هم مالداره یم چې خدای داسې ملګری راکړی او راتلونکي ته به راتلونکي کې ګورو اوس زړه خوړل ګټه نهٔ لري څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کیږي هغه کیږي او ما له دې ملګري هرڅه زده کړي په اوسنۍ زمانه کې ډیری کسان په نامه مسلمانان دي خو بلال تل ماته وایي چې: " له مرګ وروسته یوه سجده ارمان وي." هغه ما عبادت ته هڅوي تردې نور کوم ښهٔ کار شته چې ترې زده یې کړم؟

ماما غلی شو ترخه مُسکا یې وکړه شیبه وروسته یې وویل:

- زهٔ یې د کور سړی یم ټول یې شکایتونه کوي ستا په ګټه وایم زویه! په بده لاره روان یې

- "اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِیْمَ" په مانا به یې پوهیږې؟ مانا : " ته مونږ ته سَمَه (نېغه) لاره وښَیَه" دی چې ما لمانځه ته هڅوي لمونځ ما له بدې لارې ساتي

ماما غوصه شو بد بد یې ور وکتل او روان شو...

شیبه وروسته بلال لمونځ خلاص کړ او دواړه هوټل ته ولاړل...

څو ګړۍ وروسته د واده مراسم خلاص شول حمزه او بلال له هوټل د باندې ولاړل موټر کې کښیناستل ورا په روانیدو وه چې بلال ته زنګ راغی مور یې وه ویې ویل:

- یو ځل دننه راشه

موبایل یې بند کړ بلال له ځانه سره وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بې مطلبه خو زنګ نهٔ وهي چې بيا څه وايي؟

بلال له موټر ښکته شو حمزه ورپسې غږ کړ:
- ګوره بل څوک مه راوله

بلال هوټل ته دننه ولاړ مور ته يې وويل:
- څه دې ويل مورې؟

مور يې ترخه مُسکا وکړه ويې ويل:
- ګوره غوصه نشې زويه
- ههه! ووايه نو

مور يې ورو وويل:
- هغه د ناوې خور هوا نه ده...

بلال وخندل ويې ويل:
- ههه! هو د ورينداري خور هوا نوميږي تا يې شميره ليږلې وه خو ولې؟
- هغه داسې ده چې ډير يې ژړل او د دود له مخې يې خاله او عمه له ناوې سره ځي نورو موټرونو کې د ښځينه لپاره ځای نشته ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمزه بل موټر کې ولېږه دا درسره راوله یو څو ورځې دې موږ کره وي بیا ځي

حمزه له غوصې تک سور واوښت ویې ویل:
- موږې دښمنه خو مې نهٔ یې ولې انجلۍ ماسره لیږې
- نو انجلۍ خو دې نهٔ خوري!

بلال په غوصه د باندې ووت د موټر دروازه یې خلاصه کړه کښیناست حمزه ور وکتل ویې ویل:
- څه شوي؟

بلال مُسکا وکړه ویې ویل:
- ورشه اناکونډا سره موټر کې ځای شته ګني په دې نیمه شپه کې به څنګه راځې؟

حمزه په خواشینې لهجه وویل:
- ولې زهٔ خو تاسره ځم او دا اناکونډا څوک دی؟

بلال په خندا وویل:
- ههه! ماسره یوه انجلۍ ځي او اناکونډا مې ماما دی همغه چې ما لمونځ کولو تاته یې نصیحت کولو چې: "له بلال سره مه ګرځه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمزه له موټر ښکته شو بلال ته په خندا شو ویې ویل:
- ههههه! ښه ده چې ماما سره دې ما ستا غیبت نهٔ دی کړی

حمزه ولاړ د ورا ډیری موټرونو حرکت وکړ خو بلال د هوا په تمه و ډیر انتظار یې وکړ موبایل یې له جیب را وویست له ځانه سره یې وویل:
- اړ یم زنګ ووهم!

زنګ یې وکړ خو ځواب یې ورنکړ څو شیبې وروسته هوا راغله موټر ته پورته شوه مخ سیټ کې کښیناسته بلال رډ رډ ور وکتل ویې ویل:
- ښکته شه! شاته کینه

هوا خپله لاسي کڅوړه شاته سیټ ته ور خطا کړه د مخې له سیټ شاته ور واوښته کښیناسته ویې ویل:
- امم! وشو؟

بلال ورو له ځانه سره وویل:
- شرم خو نشته بیخي!

موټر حرکت وکړ هوا وویل:
- ربښتیا ما فکر کولو ته ګونګی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلال غلی و څه یې ونه ویل د ورا موټر ډېر مخکې تللي وو دوی ډېر شاته پاتې وو موټر ورو روان و ځکه سړک باندې اوبه ډنډ وې له مخې یوه ټکسي را روانه و څو ځلې یې څراغونه گل او بل شول موټر را نږدې شو ټکسي چلوونکي له موټر لاس را وباسلو بلال ژر موټر ودرولو ور ښکته شو ورپسې غږ یې کړ:

- مور او خور نهٔ لرې چې خلک په عذابوې؟

ټکسي ولاړه بلال بیرته موټر ته پورته کیدو چې ویې لیدل ټایر پنچر ده خپل سر یې ووهلو له ځانه سره یې وویل:

- اوه! هغه د ټایر په اړه ویل ما څه گومان وکړ

د موټر دروازه یې خلاصه کړه هوا ته یې ور وکتل موبایل یې په لاس کې و هوا تکه سره واوښته په غوصه یې وویل:

- ستوري دې راته خرابه کړه!

بلال بد بد ور وکتل ویې ویل:

- نوی نسل تاسو وشرمولو له رسنیو مو لوبې جوړې کړې دي خواړه مو له گیډې مخکې ستوري ته ځي رښتیا وایي: په وچو کې لانده سوځي!

له شیبې چوپتیا وروسته یې بیا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټایر پنچر دی زهٔ یې بدلوم له موټر ښکته نشې ټول سړک اوبو په سر نیولی دی.

هوا هیڅ ونه ویل د بلال خبرو چوپ کړه بلال لاړ ترڅو ټایر بدل کړي څو شیبې وروسته د موټر دروازه خلاصه شوه هوا له موټر ښکته شوه بلال ور وکتل ورو یې له ځانه سره وویل:

- په خبره نهٔ پوهیږي نو!

بلال بیرته د ټایر په خلاصولو بوخت شو شیبه وروسته د یوه موټر د څراغونو رڼا ولګیده په تیزۍ را روان و بلال ژر پورته شو د هوا مخې ته ودرید موټر تیر شو بلال ته د سړک اوبه ور باد شوې ټول لوند شو هوا په حیرانتیا وویل:

- ولې دې داسې وکړل؟

بلال په غوصه وویل:

- په یوه ځل نهٔ پوهیږې چې درته ومې ویل له موټر مه ښکته کیږه، دلته خو څوک حلوا نهٔ ویشي چې را ښکته شوې؟

د هوا سترګې له اوښکو ډکې شوې د بلال رنګ ژیړ واوښت ورو یې وویل:

- وبښه! زه په غوصه کې ځان نشم کابو کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شیبه غلی شو بیا یې وویل:
- خو له زړه نهٔ یم غوصه شوی ته... ته کینه دا دی ټایر مې بدل کړی لږ یې کلک کړم ځو

هوا غلې موټر ته پورته شوه څو شیبې وروسته ټایر بدل شو بلال موټر ته پورته شو موټر حرکت وکړ شیبه وروسته بلال د ژړا اواز واورید موټر یې یوه څنګ ته ودرولو شاته یې وکتل هوا ژړل بلال وویل:
- ومې بښه نو د خدای لپاره په کور کې ونهٔ وایې

هوا په ژړغوني غږ وویل:
- زهٔ ستا په خبرو نهٔ یم خپه
- نو بیا ؟

هوا غلې وه شیبه وروسته یې وویل:
- ته مې چې مخې ته ودریدې زهٔ دې ټیله کړم

هوا غلې شوه بلال وویل:
- وبښه نو ما له قصده نهٔ یې ټیله کړې اوبه به درباد شوې وې که مې داسې نه وای کړي

هوا په ژړغوني غږ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هغه خبره نده زما لاسي گړۍ هلته لویدلې هغه زما د مور وروستی یاد و

بلال موټر بیرته وگرځولو ویې ویل:
- ته مه ژاړه زه یې پیدا کوم
- خو څنگه...؟

لا د هوا خبره نهٔ وه خلاصه بلال وویل:
- ته مه ژاړه چې هرڅنگه کیږي پیدا کوم یې

هوا څه ونه ویل شیبه وروسته موټر ودرید بلال ښکته شو اوبو ته ور گډ شو اوبه خړې وې څه نهٔ ښکاریدل او تیاره وه تر شل دقیقو پورې شاوخوا یې لاسي گړۍ لټوله ستړی شو له ځانه سره یې وویل:
- دا په ما څه شوي؟ څه مې کیږي چې دومره ارزښت ورکوم؟

اوبو ته یې لاس ښکته کړ د لاسي گړۍ شتون یې حس کړ په خندا یې وویل:
- پیدا شوه! پیدا شوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا یې وکتل څوک نه وو غوښتل یې هوا ته زیری ورکړي د موټر دروازه یې خلاصه کړه هوا ویده وه بلال موټر ته پورته شو شاته یې وکتل له ځانه سره یې وویل:

- ښکلا څه ته وایي؟ هوا یې ښه بېلګه ده!

خپل موبایل یې را واخیست کیمره یې خلاصه کړه له ځانه سره یې وویل:

- سیلفي ورسره اخلم زهٔ به هم ورسره ښکلی ښکاره شم

د موبایل فلش بل شو بلال په بیړه موبایل بند کړ هوا د فلش په رڼا را ویښه شوه باڼه یې له یو بل سره ور وستل ویې ویل:

- دا د څه شي رڼا وه؟

بلال په بیړه وویل:

- تیاره وه د موبایل فلش مې بل کړی و اوس موټر ته پورته شوم

ژر یې له جیب لاسي ګړۍ را وویسته ور یې کړه د هوا سترګې له اوښکو ډکې شوې بلال په بیړه وویل:

- بیا څه وشول؟

هوا ژر خپلې اوښکې پاکې کړې په ژړغوني غږ یې وویل:

- ما ګومان نهٔ کولو څوک دې دومره ارزښت راکړي، تا زما لپاره...

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلال غلی و شیبه وروسته یې وویل:
- ماته هم عجیبه ښکاري ما نهٔ منله چې د مینې لپاره به څوک له ځان تیریږي دا خو لا یو کوچنی کار و

هوا رډ رډ ور وکتل ویې ویل:
- صبر صبر تا څه وویل؟ مینه!

چوپتیا خوره شوه د بلال رنګ ژیړ واوښت شیبه وروسته هوا وویل:
- ته ماسره مینه لرې؟

بلال سر ښکته اچولی و هوا په غوصه وویل:
- د خبرې ځواب مې راکړه!
- هو
- هو څه؟

د بلال ټول بدن لړزیدو ورو یې وویل:
- هو! مینه درسره لرم

هوا له غوصې تکه سره شوه ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ته ما څه پيژنې څو ساعته شول ليدلې دې يم او بيا خبره تر مينې ورسيده

بلال خواشينی شو ويې ويل:
- نهٔ دې ده اوريدلې چې وايي: "مئين ړوند وي!" خو زهٔ وايم يوازې ړوند نهٔ وي عقل او هوش هم ورسره مل نهٔ وي.

څو شيبې چوپ شو بيا يې وويل:
- ما نهٔ غوښتل اوس ووايم! دا خبره مې بې باکه له خولې ووتله

هوا هيڅ ونهٔ ويل بلال موټر ته حرکت ورکړ لا دومره مخکې نه وو تللې چې هوا په لوړ غږ وويل:
- ودريږه !

بلال موټر ودرولو هوا ته يې ور وکتل هوا له موټر ښکته شوه بلال هم ژر له موټر ښکته شو ويې ويل:
- خير ما غلطي وکړه اوس يو ځل تا کور ته ورسوم زما موبايل هم چارج خلاص کړی کور کې به اوس ټول په انديښنه وي

هوا د موټر بل خوا ولاړه مخ سيټ کې کښيناسته بلال هم موټر ته پورته شو هوا وويل:
- ما غوښتل مخ سيټ کې کښينم دومره ډارن ولې يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلال په سینه پراخه وینوله ویې ویل:

- زهٔ ډارن نهٔ یم! د ښځو عزت کوم.

هوا څه ونهٔ ویل بلال موټر ته حرکت ورکړ هوا چغه کړه:

- ما وویل چې حرکت وکړه؟

- نه!

- نو تم شه

بلال څه ونهٔ ویل چوپتیا خوره وه باران نور هم زور واخیست د موټر په چت د باران د څاڅکو ټک ټک ختلو... څو شیبې وروسته هوا وویل:

- زهٔ خو ښکلې هم نهٔ یم نو ولې راسره مینه لرې؟

بلال سوړ اسویلی وویست ویې ویل:

- آه! سپوږمۍ غواړي خپله ستاینه واوري؟

- بې ځایه مه غږیږه! ګني غوصه کیږم

بلال غلی شو شیبه وروسته هوا وویل:

- څنګه کیدای شي په دومره کم وخت کې څوک مین شي؟

- مینه شراب نهٔ دي! چې خلک یې زاړه خوښوي مینه که ربښتینې وي له اوله زړه وي عاشق چې معشوقه په اول وار وګوري ګومان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي له کلونو ورته په تمه و، اړینه نده چې په مینه دې کلونه تیر شي او بیا ورته د رښتینې مینې نوم ورکړل شي مینه باید تل یو ډول واوسي د یوه کور بنسټ که خام وي او چت یې پوخ همغه خام بنسټ پوخ چت نشي زغملای را غورځیږي، نړیږي!

یوه شیبه چوپ شو بیا یې وویل:
- زه پخه مینه کوم زهٔ غواړم هره ورځ یو عمر مینه درکړم

د هوا سترګې له اوښکو ډکې شوې بلال څه ونهٔ ویل هوا یې خپلې اوښکې پاکې کړې له خپلې لاسي کڅوړې یې خپل موبایل را وویست بلال ته یې ورکړ ویې ویل:
- ته وایې چې زه ډارن نهٔ یم دا په واټسپ کې زموږ کورنی ګروپ دی په غږیز پیغام کې ووایه چې زه له هوا سره مینه لرم

یوه شیبه غلې شوه بیا یې وویل:
- ووایه! د چا له پلار هم نهٔ ډاریږم

بلال رډ رډ ور وکتل ویې ویل:
- ته لیونۍ شوې یې؟ موږ پښتانه یو، زه له مینې مخکې ستا عزت کوم ځکه ستا د هرې خبرې پر وړاندې غلی اوسیږم که زه داسې وکړم ستا عزت خو درې ورې کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیبه غلی شو سوړ اسویلی یې وویست ویې ویل:

- زه یو هلک یم زه به داسې وکړم خو ته دا خلک نهٔ پیژنې بیا ټول تاته گوته نیسي که ستا نوم بد شو زما کورنۍ هم نهٔ مني چې زهٔ دې تاسره واده وکړم

هوا د بلال له لاس موبایل کش کړ په غوصه یې وویل:

- همدا وه ستا مینه، بیا وایې ډارن نهٔ یم

بلال په بیړه موبایل ترې واخیست غړیز پیغام یې ولیږو ویې ویل:

- اوس خوشحاله شوې؟

هوا وویل:

- هو! اوس زما موبایل او خپل دواړه بند کړه

بلال د هوا موبایل بند کړ ویې ویل:

- زما موبایل بند دی چارج نهٔ لري!

- ښه اوس ځه

- چیرته ؟

- ته حرکت وکړه زهٔ وایم بیا

موټر حرکت وکړ څو شیبې وروسته هوا وویل:

- ماته آیسکریم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موټر د بریک ټس وخوت بلال وویل:
- څنګه آیسکریم!؟
- د شیدو د ګکو د هرڅه چې وي؟
- زما مطلب دا و چې په دې نیمه شپه کې او په دې باران کې آیسکریم له کومه شي؟

هوا بانه له یوبل سره ور وستل ویې ویل:
- خوشحال بابا وایي:
"چې په چا باندې مئین یې قبلوه ئې
سل نازونه، سل ناسازې، سل جفا"

بلال څه ونهٔ ویل موټر حرکت وکړ وړاندې یو بازار مخې ته راغی خو هرڅه بند وو له موټر ښکته شو ویې ویل:
- زهٔ راځم ته همدلته اوسه

مخکې ولاړ شاوخوا یې وکتل د یو پلورنځي په لیک دړه یې نظر شو لیکلي وو: " ساړه او خواږه، خواږه لکه ته" د پلورنځي په مینځ کې څراغونه بل وو له ځانه سره یې وویل:
- دلته هرومرو څوک شته!

ور یې ور ټک ټک کړ غږ یې کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځوک شته!؟

ځوک را ښکاره نهٔ شول بلال له ځانه سره وويل:

- خدايه! ته يو کار وکړه اړ يم اوس "سل نازونه، سل ناسازې" ومنم ګني...

لا يې خبره نه وه خلاصه چې د پلورنځي ور خلاص شو يو ځوان د باندې را ووت په خوبجن غږ يې وويل:

- څه غواړې؟

- آيسکريم!

ځوان خپلې سترګې ومږلې ويې ويل:

- په سد خو يې!؟ دا باران وګوره دا نيمه شپه او ته راغلی يې آيسکريم غواړې

بيرته يې ور بند کړ بلال په بيړه وويل:

- هيله کوم وروره! مئين نو چيرې په سد وي

ځوان بيرته له وره سر را وباسلو ويې ويل:

- راځه دننه!

بلال دننه ورغی ځوان ور بند کړ بلال وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- وروره دروازه خلاصه پرېږده
- وروره باران نهٔ ويني اوبه دننه راځي
- هيله کوم هلته يو څوک موټر کې يوازې دي غواړم پام مې ورته وي

ځوان دروازه خلاصه کړه په خندا يې وويل:
- ههههه! معشوقه دې ده؟

بلال ورو وويل:
- هو!
- ښه ته يو شل دقيقې صبر وکړه آيسکريم جوړېږي...

شل دقيقې وروسته آيسکريم تيار شول ځوان بلال ته آيسکريم ورکړل بلال وويل:
- صبر دا آيسکريم يوسم راځم

آيسکريم يې واخيستل د موټر په لور روان شو آيسکريم يې هوا ته ورکړل ويې ويل:
- لاس مې بند وو پيسې مې نهٔ دي ورکړې پيسې ورکوم راځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیرته پلورنځي ته لاړ له جیب یې پیسې را وویستې ځوان ته یې ورکړې ځوان یو سور ګل را واخیست له پیسو سره یې یو ځای بیرته بلال ته ورکړ ویې ویل:

- وروره! موږ په داسې هیواد کې ژوند کوو چې خلک یې صرف د مینې کیسې خوښوي نهٔ یې خپله کوي نهٔ بل ورته پریږدي او زه خو د مینې لپاره دومره کولای شم دا هرڅه زما لخوا تاسو ته ډالۍ

بلال مُسک شو او روان شو ځوان غږ کړ:

- وروره ځانته پام کوئ هوا ډیره توپاني ده!

بلال بیرته موټر ته ستون شو کښیناست هوا یو آیسکریم بلال ته ورکړ بلال وویل:

- زهٔ یې نهٔ غواړم دواړه مې تاته راوړي ما ویل چې بیا بل ونهٔ غواړې په دې نیمه شپه کې به بیا پیدا نشي

هوا تندی تریو کړ ویې ویل:

- نو بیا به دې ماته هم نهٔ راوړلو!

بلال آیسکریم ترې واخیست ویې ویل:

- ښه دا دی زهٔ یې هم خورم غوصه کیږه نو مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا مُسکی شوه بلال آیسکریم خوړلو هوا ورته ځیر شوه بلال وویل:

- ولې داسې راته ګورې؟

هوا په ژړغوني غږ وویل:

- له پوزې دې وینه راغله!

بلال ژر په لاس وینه پاکه کړه هوا په بیړه له خپلې لاسي کڅوړې دسمال را واخیست بلال ته یې ورکړ ویې ویل:

- واخله په دې یې پاکه کړه

بلال د موټر له ډشبورډ کاغذي دسمال را واخیست وینه یې پاکه کړه د هوا ورکړی دسمال یې جیب ته واچولو هوا وویل:

- هغه دې ولې جیب کې واچولو

- هیڅ هسې

بلال غلی و شیبه وروسته یې وویل:

- نور به لاړ شو!

هوا غلې وه څه یې ونه ویل بلال بیا وویل:

- اورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا په بیړه وویل:

- ماسره نکاح وتړه! زهٔ ویریږم

- ولې ویریږې؟ او نکاح څه ټوکه ده چې وشي

- نو مینه راسره نهٔ لرې؟

- لرم یې خو...

- خو څه؟

بلال غلی شو شیبه وروسته یې وویل:

- ښه سمه ده دا هم منم، خو! دا نیمه شپه کې کیږي؟

- زهٔ نهٔ پوهیږم

- گوره اوس هم پهٔ جنجال کې یو، یو ځل مو په هغه غږیز پیغام غم جوړ کړی دا به نهٔ کوو او..

شیبه وروسته یې وویل:

- او واده ژوند کې یو ځل کیږي باید داسې وشي چې تل یې یاد پاتې وي

هوا په ژړغوني غږ وویل:

- اړینه نهٔ ده چې واده یاد پاتې شي باید هره ورځ د ژوند رنگینه وي باید هره ورځ یاد پاتې شي زهٔ هغسې واده نهٔ غواړم... زه ویریږم زهٔ د مرگ بوی حس کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه شیبه غلې شوه بیا یې وویل:
- زه غواړم ستا میرمن شم بیا مړه شم!

بلال په بیړه وویل:
- د مرگ خبره دلته چا مینځ ته راوړه داسې مه وایه ما وویل چې زه به هره ورځ یو عمر مینه درکوم چې ته مرې زه به پاتې شم؟
- وایي: " روح چې له جسم بیل شي هرڅه ویني" که ته مړ وې د جنازې شاته دې وگوره بله جنازه به هرومرو روانه وي
- ښه چوپ شه نو !

موټر حرکت وکړ مخکې ولاړل بلال وویل:
- دلته خو کوم جومات نهٔ ښکاري

څو شیبې وروسته یو جومات تر سترگو شو بلال موټر ودرولو ویې ویل:
- راځه !

موټر یې بند کړ د جومات دروازه یې خلاصه کړه هوا وویل:
- دا دروازه خو خلاصه ده!

بلال مُسک شو ویې ویل:
- د خدای د کور دروازې تل خلاصې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جومات انګړ ته دننه ولاړ بلال وویل:
- ته همدلته صبر وکړه زه دننه ځم چې څوک شته کهٔ نه
- ښه

جومات ته دننه شو څوک نهٔ ښکاريدل شاوخوا يې وکتل يوه کونج کې يو بوډا پريوتی و بلال نږدې ورغی ورو يې وويل:
- ملا صيب !

ملاصيب را ويښ نشو بلال ور ټيټ شو په اوږه يې ورته لاس کيښود ويې ښورولو ملا صيب د واره سترګې پرانيستې ويې ويل:
- بسم الله الرحمن الرحيم! څوک يې؟

بلال په بيړه وويل:
- ملا صيب نکاح...
- نکاح څه؟
- غواړم زموږ نکاح وتړې!

ملا صيب نيغ کښيناست ويې ويل:
- چاسره! دا وخت؟ کومه انجلۍ دې را تښتولې؟

بلال له شيبې چوپتيا وروسته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که پوښتنې کوې نو پرېږده يې، بيرته ويده شه!

ملا صيب خپل پټکی تر سر تا وکړ ويې ويل:
- چيرې انجلۍ؟

بلال په بيړه ولاړ هوا ته يې غږ وکړ دواړه کښيناستل ملا صيب وويل:
- نوم دې څه ده لورکۍ؟ او د پلار نوم دې؟
- نوم مې هوا ده او د پلار نوم مې محمد حسن

ملا صيب له جيب خپلې تسبيح را وباسلې دوې تسبيح يې واړولې بلال ته ځير شو ترخه مُسکا يې وکړه ويې ويل:
- تاته بايد بيل ووايم؟ خپل نوم او د پلار نوم ووايه!
- نوم مې بلال د پلار نوم مې پيرمحمد دی

ملا صيب خپلې تسبيح اړولې هوا او بلال غلي ناست وو ملا صيب وويل:
- هوا چې د محمد حسن لور ده او په دې نوم بله لور نهٔ لري...

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو دقيقې وروسته نکاح وتړل شوه او له جومات را ووتل په موټر کې کښيناستل بلال له جيب هغه سور ګل را وويست چې آيسکريم پلورنکي ورکړی و هوا ته يې ورکړ ويې ويل:

- يو ښکلی ګل د يوې ښکلې انجلۍ لپاره!

هوا مُسکۍ شوه ګل يې ترې واخيست بلال وويل:

- نور دې چا کيسه کې نهٔ يم! اوس مې ميرمنه يې

- خو زهٔ ويريږم داسې ښکاري چې دا باران دې وروستی باران وي

- مطلب؟

- مخکې مې وويل د مرګ بوی حس کوم

بلال موټر روان کړ غوصه و څه يې ونهٔ ويل...

- شپه ۳:۰۰ بجې، کابل، کارته نو

بيرته کورته ستنيدل تازه تازه د کابل نوې کارتې د مارکيټ سيمې ته ورسيدل هوا وويل:

- موټر ودروه!

بلال موټر ودرولو ويې ويل:

- بيا څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوا د سړک خواته ور وکتل د بنګړیوالو صندوقونه تر سترګو کیدل ویې ویل:

- هغه صندوقونه وینې؟ هغو کې بنګړي دي ماته بنګړي راوړه

بلال په حیرانتیا وویل:

- نهٔ یې وینې هیڅوک نشته؟ غلا وکړم؟

هوا څه ونهٔ ویل بلال په غوصه له موټر ښکته شو د سړک له سر یې یوه تیږه را واخیسته وړاندې ولاړ د یوه صندوق قلف یې مات کړ بنګړي یې را واخیستل له جیب یې پیسې را وباسلې په صندوق کې یې کیښودې بیرته یې بند کړ بیرته موټر کې کښیناست ویې ویل:

- واخله !

هوا مُسکۍ شوه بنګړي یې ترې واخیستل موټر روان شو بلال وویل:

- تا خو هیڅ ونهٔ ویل؟

- څه ووایم؟

بلال ترخه مُسکا وکړه ویې ویل:

- څه نه!

موټر روان و څو شیبې وروسته هوا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مینه درسره لرم!

د بلال رنګ واوښت د هوا خواته ځیر شو هوا چغه کړه:
- مخې ته ګوره!

موټر د برېښنا له ستنې سره ټکر شو سرې لمبې ترې پورته شوې د بلال له خولې غبږ ونه وت هوا په سلګو سلګو وویل:
- ومې ویل کنه چې ستا د جنازې شاته به زما جنازه وي

سترګې يې پټې شوې د سړک په سر د موټر د ښیښو تر څنګ د شنو بنګړیو ټوټې پرتې وې، هو! دوه جنازې پورته شوې او دا د دوی د مینې او ژوند وروستی باران و...

پـــــــای!

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**